مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۹ د کب خلورمه | د ۲۰۲۱ د فبروري ۲۲مه | ۶۸۴یمه گڼه

# د سولې هڅې او ډېرېدونکی تاوتریخوالی؛

## عبدالله عبدالله: اوربند ته جدي اړتیا ده، طالبان دې ژر تر ژره مذاکرات پیل کړي


۳

### د امریکایي ګټو لپاره د کابل پر سړکونو اور
۲ مخ

### که سوله ونه شي؛ تېر تاریخ به تکرار شي
۲ مخ

### عمق روابط ایران و القاعده تا کجاست؟
۲ مخ

## پنټاګون: افغان هوایي ځواک په یوازې ځان د ګټورو عملیاتو وړتیا نه لري


د امریکا دفاع وزارت یا پنټاګون په یوه راپور کې ویلي، چې له بهرنیو سلاکارانو پرته افغان هوایي ځواکونه د ګټورو عملیاتو ترسره کولو وړتیا نه لري.

د امریکا د نظامي عملیاتو د څارنې تازه موندنې ښيي، که امریکایي سلاکاران د دوحې له هوکړې سره سم له افغانستان څخه ووځي، نو افغان هوایي ځواکونه به د جګړې په ډګر کې له طالبانو سره د پلي ځواکونو اړین ملاتړ ونه شي کولی. په راپور کې راغلي، چې په افغانستان کې د بهرنیو سلاکارانو کمښت د مشورې او روزنې ماموریت په بشپړ ډول فلج کړی دی.

د راپور له مخې، اوسمهال د افغان ځواکونو د الوتکو د ساتنې او خوندیتوب مسوولیت د امریکایي سلاکارانو پر غاړه دی. راپور کاږي، که دا مسوولیت افغانانو ته وسپارل شي، نو هغوی به ان په میاشتو هم د الوتکو د ساتنې وړتیا ونه لري. د راپور له مخې، تر اوسه ۹۴ سلنه بهرني مشاورین له افغانستان څخه وتلي دي.

د امریکا د دفاع وزارت دا راپور داسې مهال خپرېږي، چې څو ورځې وړاندې د ولسمشر د ملي امنیت سلاکار حمدالله محب ویلي وو، چې د دوی یوازینی ستونزه مالي ده او د سرتېرو او جنګي وړتیاوو له اړخه هېڅ ډول ستونزه نه لري.

## پوهنې وزارت: په هېواد کې د جګړو او نښتو پرمهال زر ښوونځي ویجاړ شوي



۵ مخ

## کاروبار

۴ مخ

### نایک

د دوی لومړی محصول یوه جوړه بوټان وو چې په ډېر ابتدایي شکل جوړ شوي وو؛ خو دا مهال له ۷۰۰ رقمونو زیات بوټان او همدارنګه سپورټي جامې د هر موسم، هر سپورټ او هر سپورټي ټیم لپاره جوړوي.



## کرنې وزارت: په بادغیس کې یو زر او ٦٧٧ جریبه نوي بڼونه جوړ شوي



د کرنې وزارت، د کرنې د ودې او کلیوالي پراختیا پروژې له لارې په تېرو دریو کلونو کې په بادغیس کې یو زر او ٦٧٧ جریبه نوي بڼونه جوړ کړي، چې پکې د پستې، مڼو، انګورو او چهارمغزو بڼونه شامل دي.

یاد بڼونه د بادغیس ولایت په جوند، غورماچ، قادس او بالامرغاب ولسوالیو کې جوړ شوي دي، چې د جوړولو ټولیز لګښت یې ۳۵ میلیونه او ٥٦٧ زره او ٥٥١ افغانۍ ده.

په ورته مهال کرنې وزارت وایي، دوی په پام کې لري، چې د کرنې د ودې او کلیوالي پراختیا پروژې له لارې په ۱۴۰۰ لمریز کال کې د بادغیس ولایت په څلورو ولسوالیو کې د ۱۲۴ زره امریکایي ډالرو په ارزښت ۷۵۰ جریبه نوي بڼونه هم جوړ کړي.

یاد وزارت زیاتوي چې پر بادغیس سربېره، د هېواد په نورو ولایتونو کې هم د بڼونو د پراختیا په موخه پلانونه لري، چې په راتلونکي کال کې به یې چارې پیل شي.


## وزارت صحت عامه: روند تطبیق واکسن کرونا در کشور در جریان هفته جاری آغاز می‌شود




وزارت صحت عامه می‌گوید که قرار است برنامه تطبیق واکسین کرونا در کشور در جریان هفته جاری به صورت رسمی آغاز شود.

دستگیر نظری، سخنگوی وزارت صحت عامه گفت که زمان دقیق آغاز برنامه تطبیق واکسن کرونا هنوز مشخص نشده است. نظری احتمال داد که روز چهارشنبه هفته جاری تطبیق واکسین کرونا در برنامه‌ای در ارگ ریاست جمهوری آغاز شود. افغانستان ۵۰۰ هزار دوز واکسن کرونا ساخت هند را دریافته است. قرار است با این مقدار، حدود ۲۵۰ هزار تن در کشور واکسین شوند. شورای امنیت ملی به وزارت صحت عامه دستور داده است که گروه‌های معروض به خطر، نیروهای امنیتی، کادر درمانی و خبرنگاران را در اولویت قرار دهد. نخستین محموله واکسین که از سوی هند به افغانستان کمک شده بود، در نوزدهم دلو به کابل رسید. واکسن «کوویشلید» ساخت هند که به افغانستان اهدا شده است در آن زمان از سوی سازمان صحی جهان جهان تأیید نشده بود، اما این سازمان چند روز پیش استفاده از واکسین کرونا ساخت هند را تأیید کرد. وزارت صحت عامه می‌گوید که برای ۲۰ درصد جمعیت کشور واکسین کرونا تدارک شده است و قرار است برای ۴۰ درصد دیگر جمعیت کشور نیز واکسن کرونا از سوی شرکای صحی افغانستان کمک شود.

براساس آمار رسمی، در افغانستان تاکنون بیش از ۵۵ هزار نفر به ویروس کرونا مبتلا شناسایی شده‌اند. از این میان، بیش از دو هزار نفر بر اثر ابتلا به ویروس کرونا جان باخته‌اند.

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life

دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

سرلیکنه

## د امریکایي گټو لپاره د کابل پر سړکونو اور

پرون یو ځل بیا په کابل او لښکرگاه کې چسپکي ماینونو خلک ووژل. هره ورځ د کابل ښار په واټونو کې پر موټرو اور بل وي او لمبې یې د افغان مسلمان غوښې او هډونه سوځوي. هېڅوک د دغه اور مسوولیت نه اخلي، خلک همغسې سوځېږي، حکومت یوازې غندنې کوي او خلک ژاړي، درد تېروي، سوځېږي او پر پاتې شوو جسدونو او ایرو خاورې اړوي. د وحشت دا حالت بې سارې دی او افغانان نه پوهېږي چې چا او ولې دا وحشت پیل کړی دی.
ساده خبره ښایي دا وي چې د جگړې دواړه اړخونه طالبان او حکومت د دغو پېښو تر شا دي، ځکه حکومت طالبان او طالبان حکومت د دغو پېښو مسوول گڼي، خو خبره تر دې ډېره پېچلې او ژوره ده. دا سمه ده چې دا وحشتونه د دې خاورې د څو جاهلو، وحشي صفته او نااهله اولادونو پر لاسونو کېږي، خو د دې لوبې پلانوونکي او اصلي قاتلین بیا افغانان نه دي. روانه جگړه نه د طالبانو او نه هم د حکومت په گټه ده، خو د کابل په سړکونو د انسانانو پر غوښو په بل شوي اور په اسلام آباد، ډیلي، تهران او واشنگټن کې لاسونه گرمېږي.
ټول پوهېږي چې د سولې پروسه په قصدي او شعوري ډول همداسې ډېزاین شوه، چې یوازې امریکایي اړخ خوندي کړي او افغانستان د افغانانو لپاره لا سور تنور کړي. اوس امریکایان خوندي دي، نه یوازې ځواکونه یې خوندي دي، بلکې ټول سیاسي، استخباراتي او ملکي مرکزونه او په دوی پورې اړوند کسان خوندي دي. هېڅ امریکایی نه دی وژل شوی او ان چا د امریکا پر سفارت د گاټې گوزار هم نه دی کړی. په امریکایي لگښتونو کې لسگونه میلیارده ډالره کموالی راغلی او دا همغه څه دي چې امریکایانو غوښتل، خو پر افغان انسان اور بل دی. که چا پرون په کابل ښار کې په وینو لړلي ماشومان او پر خپله هغه مور ویر او چیغې لیدلې وي، چې په خپلو وینو کې پر ځمکه بې حاله پرته وه، نو پوهېږي چې افغان انسان د ځمکې پر مخ له سخت دوزخ سره مخ دی.
تر اوسه د سولې په برخه کې چې هر ډول اساسي خنډ دی، هغه امریکایانو جوړ کړی، خو په ظاهره یې داسې ښودلې، چې دوی په دې برخه کې مرسته کوي او نور لوري خنډونه جوړوي. که دوی رښتیا هم غوښتي وای، څه ډول چې امریکایي ځواکونه خوندي شول، همداسې به افغانان هم خوندي شوي وای. اوس چې هم په کابل او ولایتونو کې څه ډول وحشت روان دی، دا د امریکا له خوښې او اجازې پرته ناشونی کار دی. که د دغو بریدونو تر شا هر څوک وي، که یې طالب کوي، که حکومت، که یې هند کوي، که ایران او که یې تهران کوي او که مسکو، هېڅ ممکنه نه ده چې د امریکا له خوښې پرته دې د وژنو او وحشت یوه داسې څپه راشي. موږ باید درک کړو چې د هرې لوبې تر شا د امریکا لاس دی او د کابل په سړکونو سوځېدونکي انسانان یوازې په هغه اور کې سوځي چې د امریکایي گټو لپاره بل شوی دی.

# که سوله ونه شي؛ تېر تاریخ به تکرار شي

لیکنه: محراب سلیمان خیل

که طالبان او حکومت سوله ونه کړي، نو طالبان به د ۱۹۹۴ کال د مجاهدینو له سرنوشت او حکومت به ۱۳۷۱ کلونو د نظام له سرنوشت سره مخ شي. مجاهدین ۱۴ کاله د امریکا په مستقیم امر له افغان حکومت سره وجنگېدل؛ دلته د پاکستان نوم ځکه نه یادوم چې پاکستان په هغه وخت کې د ټولې نړۍ قرضدار و او دومره امکانات نه وو ورسره چې اووه لویې جنگي ډلې دې د قوي نظام پر وړاندې تجهیز او تشویق کړي؛ څو نظام پرې وپرزوي. ۱۴ کاله دا جنگي ډلې امریکا او پاکستان په ښه اخلاص حمایه کړې، کله چې امریکا خپل هدف تر لاسه کړ، د هیواد لویه اردو یې پرې دړې وړې کړه، خپل لوی رقیب روسیه له سوپر طاقت څخه په څو ایالتونو وویشل شوه، امریکا خپل هدف ته ورسېده او دا وخت نوره د مرستو لړۍ هم په ټپه ودرېده. امریکا دې جنگي ډلو ته د سترې بریا مبارکي ورکړه او نور یې دوی په خپل منځ کې سره پرېښودل. کرنل امام، ضیاالحق، حمیدگل او نوازشریف خپل ټاکلی ماموریت په صادقانه ډول پای ته ورساوه. قرضدار پاکستان یې د اټوم بم څښتن کړ او کراچۍ ښار یې د رڼاگانو په ښار بدل کړ. موږ یونیم میلیون شهیدان ورکړل؛ یو میلیون معیوب؛ اووه میلیونه له هیواد مهاجر او په ټول هیواد کې یوه داسې کوټه روغه پاتې نشوه چې په مرمۍ نه وي سورۍ شوې.
جهاد موږ وکړ؛ خو جنت او حورې نورو یوړې. مجاهدین لا هم د دې ملت په وینو ماړه نه شول، په زرگونو یې سره ووژل، کابل په کنډواله بدل شو، هغه کابل چې نجیب الله خپل سر پرې ورکړ؛ خو کابل یې وران نه غوښت. لنډه دا چې افغانان دومره ذلیل او رسوا شول چې نه گرگین داسې ظلمونه کړي وو، نه روس، نه بل کوم کافر. که ظلمونه یې په تفصیل سره بیان کړو، موضوع بلې خوا ته ولاړه نشي. لنډه دا چې د دوی په اسلامي نظام کې افغانانو د هر ظلم او جبر سکه وکړه. امریکا چې خپل ماموریت خلاص کړ، نو پاکستان هم له مجاهدینو لاس واخیست، یو غیران کومک یې هم نه ورسره کاوه. مجاهدین مجبور شول چا سعودي عربستان ته لاس اوږد کړي، چا د ایران اخوانیانو ته ځولۍ ونیوله، چا بیرته روسیې او بل بل هیواد ته د مرستې غږ وکړ. دلته د امریکا بهانه ورته جوړه شوه او نوی ماموریت یې پاکستان ته ورکړ. کرنل امام په خپل کتاب (د افغان جهاد داستان) کې لیکي، نیمه شپه عاجله غونډه رابلل شوې وه چې زه هم ورغلم، نو تصمیم داسې ونیول شو چې نور باید د مجاهدینو ټغر ټول او د ۳۵ مثلې ځوانانو په مټ باید زړه ډله ختمه شي. هغه وو چې د کندهار میوند ولسوالۍ څخه یې شروع پرې وکړه او په لنډه موده کې تر کابله راورسیده.
هغه مجاهدین چې پاکستان به ورته له آسمانه راښکته شوې پرېښتې ویلې، په دغه وخت کې پاکستان خپلې خاورې ته لا نه پرېښوده، گلبدین حکمتیار تاجکستان ته وتښتېد، مزاري یې په پراشوټ کې له تیارې راوغورځاوه، هر چا د منډې لار غوښته او ځینې خو یې ان تر کولابه ورسیدل. «نو دا دې پاکستان او امریکا انډیوالي» همدا طالبان وو. په ۲۰۰۱ کال کې امریکا د پاکستان په همکارۍ د نړۍ لوی لوی بمونه پرې استعمال کړل، پاکستان نه دا چې ملاتړ یې ونه کړ؛ بلکې د سمندري کښتیو او هوایي ځواک ته یې ښه لوی لوی میدانونه خالي کړل، څو د طالبانو جوړ نظام پرې دړې وړې کړي.
نن که سوله ونشي، تېر تاریخ تکرارېږي. دا درېیم کال دی چې نړۍ طالبان د یو سیاسي جهت په توگه پېژني، امریکا ټرون ورسره وکړ او د قطر دفتر ټول مصارف یې پر غاړه واخیستل. ۵۰۰۰ بندیان یې ور خوشې کړل، د نړۍ هیوادونو ته آزاده تگ راتگ کوي؛ خو دا یارانه او تعهد به تلپاتې نه وي. د جوبایډن له راتگ سره کیسه بل رقم شوه، افغاني مذاکرات په ټپه ودرېدل، د امریکا او طالبانو ترمنځ په شوي تړون یې هم بیا څېړل شروع کړل، د نظامیانو وتل یې هم لازم ونه گڼل، نو ډار دلته دی چې امریکا او پاکستان ممکن نوی ماموریت غواړي پیل کړي. که طالبان عجله ونه کړي، خپلې غوښتنې کمې نه کړي، په رښتینې ډول سولې ته ژمن نشي، په افغان ملت رحم ونه کړي، د پاکستان له منگولو ځان خلاص نه کړي؛ نو د بلې جگړې پیل او پر طالبانو لکه د تېرو مجاهدینو د سرنوشت داسې څپه راروانه ده. دا جگړه به دومره مرگوني وي چې د تېرو جگړو مثالونه به ورک کړي. سوله په زغملو راځي، د یو بل په منلو راځي، یو څه باید وبایلل شي، څو سولې ته ورسیږو. پر پاکستان باور نه دی پکار، پاکستان لکه څنگه چې مجاهدین خرڅ کړل او لکه څنگه چې د طالبانو تېر نظام امریکا ته تسلیم کړ، داخل هم شرایط هغسې دي.
امریکا شته نظام او طالب دواړه په میدان پرېږدي، نه ولاکه طالب دلته بیا د تېر په شان حکومتداري وکړای شي او نه دا شته حکومت بې له سولې دوام کولای شي. سوله حتمي ده! سوله د افغانستان نوم دی! سوله لکه د ماشوم په غوږ کې آزان چې د نوي ژوند زیرې ورکوي. جنگ لکه د اسرافیل شپیلۍ نه طالب پاتې کیدای شي، نه دا شته نظام.

# عمق روابط ایران و القاعده تا کجاست؟

سید عبدالله نظامی؛ روزنامه‌نگار

نویسنده در این مطلب نگاهی کرده به سابقه روابط ایران و شبکه القاعده و می‌نویسد که تامین این روابط به اوایل دهه نود میلادی با میانجی گری حسن ترابی، رهبر اسلام گرایان در سودان بر می‌گردد. نویسنده بدین باور است که خصومت القاعده با عربستان و آمریکا نکات مشترک میان ایران و القاعده است.
بحث‌ها درباره عمق روابط ایران و القاعده از زمان دولت دونالد ترامپ، رئیس جمهور پیشین آمریکا در حال افزایش است.
مایک پمپیو، وزیر امور خارجه پیشین آمریکا در ماه جنوری سال ۲۰۲۱ در یک سخنرانی مفصل دلایل مختلفی را برای حضور اعضای القاعده در خاک ایران بیان کرد، از جمله ترور محمد المصری، فرد شماره دوم این گروه توسط ایالات متحده به کمک اسرائیلی‌ها را رسماً اعلام کرد.
براساس گزارش‌ها، المصری با دخترش مریم در حومه تهران روز ۷ حوت مورد حمله افراد مسلح قرار گرفت. او به دست داشتن در حمله به سفارت‌های آمریکا در کنیا و تانزانیا در سال ۱۹۹۸ متهم بود. اگرچه دولت جدید آمریکا به رهبری جو بایدن در تلاش برای حل مسالمت‌آمیز اختلاف هسته‌ای با ایران است و تنش‌هایی که از زمان دولت ترامپ بوجود آمده است تا حدودی کاهش یافته است، اما اتهام‌های در مورد نزدیکی القاعده، یک سازمان تندرو سنی با ایران بیشتر شیعه‌مذهب یک سوال اساسی برای بسیاری‌ها بوده است. در تلاش برای حمایت از گروه‌های جهادی در جنگ علیه شوروی در افغانستان در دهه هشتاد میلادی، مقامات ایرانی گه‌گاه جلساتی را با اعضای القاعده برگزار کرده بودند. این جلسات زمینه مناسب برای روابط نزدیک میان ایران و القاعده در آینده را فراهم آورد.
در اوایل دهه ۱۹۹۰، ایران و القاعده روابط بینشان را از اتحادی آغاز کردند که توسط حسن ترابی، رهبر اسلام گرایان در سودان تشکیل شد.
حسن ترابی، یک سودانی تحصیل کرده در فرانسه و بریتانیا بود که در میان رهبران اسلام گرا یکی از افراد برجسته محسوب می‌شد. او نقش مهمی در به قدرت رسیدن عمرالبشیر در یک کودتا در سال ۱۹۸۹ داشت، اما بعدها درگیر اختلافات با بشیر شد و از جمله چندین بار به زندان افتاد.
ترابی یکی از رهبران اخوان المسلمین سودان بود که با اخوان المسلمین در مصر، ترکیه و بقیه جهان تفاوت داشت. این شاخه اخوان المسلمین سودانی برای اتحاد میان شیعه و سنی و برخی از گروه‌های سلفی تلاش می کرد.
در میان اعضای القاعده نیز این نحله اخوان المسلمین حامیانی داشته و از جمله ایمن الظواهری، رهبر فعلی القاعده نیز به دنبال چنین وحدتی است.
در همان زمان، اعضای ارشد القاعده با وساطت برخی از رهبران حزب الله لبنان با ایران ارتباط برقرار کردند. هنگامی که اسامه بن لادن، رهبر القاعده در سال ۱۹۹۶ از سودان به افغانستان پرواز کرد، ایران در این تلاش بود که افراد نزدیک به خود را در میان این گروه داشته باشد.
نیروی قدس سپاه در خاورمیانه که برای پیشبرد جنگ‌های نیابتی مشغول کار بود، وظیفه برقراری ارتباط با رهبران القاعده را بر عهده داشت. ورود سران القاعده به افغانستان و روابط متعاقب آن با طالبان در دهه ۱۹۹۰ این روابط را متزلزل کرد، اما با کمک گلبدین حکمتیار، رهبر حزب اسلامی افغانستان برخی از روابط برقرار بود.
محمد علی، عضو پیشین حزب اسلامی حکمتیار به من گفت: «اگرچه ایران ظاهراً گلبدین حکمتیار را از خاک خود راند، اما روابطشان قطع نشد. پس از حمله هواپیمای بدون سرنشین آمریکایی به آقای حکمتیار در سال ۲۰۰۲ در دره شیگال ولایت کنر، گفته می‌شد که او هنگام وقوع حمله با تلیفون ماهواره‌ای ثریا با مقامات ایرانی صحبت می‌کرد. حکمتیار و اسامه بن لادن در آن زمان در یک منطقه زندگی می‌کردند.»
سعد الفرقانی، شهروند عربستان سعودی یکی از عوامل اصلی القاعده بود که پس از حمله آمریکا به افغانستان همچنان با گلبدین حکمتیار نزدیک بود. الفرقانی با اسامه بن لادن ارتباط نزدیک داشت و بارها به ایران سفر کرد و بعدها او در یک حمله هواپیماهای بدون سرنشین آمریکایی در وزیرستان شمالی ایالت پښتونخواه کشته شد. رسانه‌های غربی گزارش داده‌اند که پس از حمله آمریکا به افغانستان بسیاری از اعضای القاعده از ترس حملات آمریکا به ایران و پاکستان پناهنده شدند و حتی گزارش شد که حمزه بن لادن، پسر اسامه بن لادن نیز در ایران زندگی کرده است.
ایران به صراحت از جنگ القاعده و طالبان در افغانستان علیه آمریکا و نیروهای ائتلاف حمایت نکرده است، اما دولت افغانستان و نظامیان آمریکایی گاهی گزارش‌هایی را در مورد تأمین سلاح و مواد منفجره توسط ایران برای شبه نظامیان منتشر کرده‌اند.
واشنگتن پست گزارشی از روابط احمد وحیدی وزیر دفاع پیشین ایران با ایمن الظواهری، معاون وقت و رهبر فعلی القاعده در سال ۲۰۰۳ منتشر کرد. در این گزارش ادعا شده بود که وحیدی تسهیلات و مدارک سفر را برای رهبران القاعده به ایران در سال ۲۰۰۱ فراهم کرد.
در ماه دسامبر ۲۰۱۰ اسناد سری ارتش آمریکا مبنی بر عدم موفقیت ایران در زمینه کمک کره شمالی به القاعده و متحدان افغانش به رسانه‌ها درز کرد.
وال استریت ژورنال در ۲۷ جولای سال ۲۰۱۰ گزارش داده بود که در سال ۲۰۰۵ گلبدین حکمتیار، رهبر حزب اسلامی مورد حمایت ایران با نمایندگان کره شمالی دیدار کرده و در مورد بدست آوردن سلاح ضد هواپیما و موشک‌های دوربرد گفتگو کرده بود.
امان الله، فرمانده ارشد حزب اسلامی در آن زمان گفت: «تعدادی از کشورها از جمله چین به حزب اسلامی اسلحه پیشنهاد کرده اند، اما ما خواهان حمایت بی قید و شرط هستیم.»
در سال‌های اولیه جنگ علیه ایالات متحده، حکمتیار از نظر القاعده و حامیان آن یک رهبر قابل اعتماد در افغانستان قلمداد می‌شد، اما نقش وی، با سازماندهی مجدد طالبان کمرنگ شد.
وزارت خارجه آمریکا در گزارشی که در مورد تروریزم در سال ۲۰۱۵ منتشر کرد، گفت که ایران تمایلی به افشای جزئیات تحقیقات در مورد برخی از اعضای اسیر شده القاعده یا بحث در مورد نحوه انجام آنها ندارد.
نیویارک تایمز در سپتامبر سال ۲۰۱۵ گزارش داد که ایران پنج رهبر ارشد القاعده را در برابر رهایی احمد نیکبخت، دیپلمات ایرانی در یمن آزاد کرده است.
بسیاری از اعضای القاعده از افغانستان از طریق ایران به جنگهای سوریه و عراق رفتند، زمانی که القاعده معتقد بود پس از بهار عربی جبهه بزرگی در خاورمیانه تشکیل خواهد شد.
بر اساس گزارش‌ها، مسیر این سفرها به ایران مستقیماً در مرز افغانستان و ایران نبوده و مسافران ابتدا از افغانستان به پاکستان و از آنجا از ایران عبور می کردند.
اطلاعات مربوط به روابط ایران با القاعده گه‌گاهی از سوی نهادهای ایالات متحده منتشر می‌شد، ولی دولت دونالد ترامپ در پی آنکه توافق هسته‌ای با ایران (برجام) را لغو کرد، این کشور را به دست داشتن در ستیزه‌جویی متهم کرد.
جواد ظریف، وزیر امور خارجه ایران اخیراً در توییتی علیه اظهارات همتای آمریکایی خود نوشت که ایران هیچ ارتباطی با القاعده ندارد و این تبلیغات پوچ است.
منابع آمریکایی می گویند، به شمول سیف العدل، مسئول بخش عملیاتی القاعده، نام‌های شماری دیگر از اعضای ارشد این گروه را می گیرند که در خاک ایران پنهان شده‌اند.
این همه دوستی و حمایت متقابل برای ایران کم به نظر نمی‌رسد.
خبرنگاران خاورمیانه می‌گویند، ایران تا حدودی با اخوان المسلمین همدردی می کند و بسیاری از اعضای القاعده نیز این الگو را دنبال می کنند.
از نظر ایران، حمایت از القاعده و سایر گروه‌های مشابه در منطقه به معنی ایجاد دردسر برای رقبای سرسخت این کشور، عربستان سعودی و اتحادیه عرب است. طی دو دهه گذشته، ایران حضور خود را در جنگ‌های عراق، سوریه و یمن به طور مستقیم یا غیرمستقیم حفظ کرده، سرمایه‌گذاری قابل توجه کرده و بیشترین نفوذ را در خاورمیانه داشته است.
اسامه بن لادن رهبر سابق القاعده هم خصومتی آشکار با رژیم سعودی داشت و هم آمریکا را دشمن می پنداشت، شبکه القاعده هم همچنان همین اعتقاد را دارد؛ نکات مشترکی که ایران می‌تواند از آن بهره ببرد.

# په افغانستان کې د نظامونو بدلون او اقتصادي ځوړتیا

لیکنه: یارمحمد تره‌کی

د افغانستان د تیرو پنځوسو کلونو حالات او حوادث د ډېرو صاحب نظرو او منتقدینو لخوا په جذباتو او د ذهني شرایطو په سپړلو سره ارزول کېږي. دا سمه خبره ده چې رژیمونه د خپل اقتدار معراج ته رسېږي او بیا بېرته را پرېوځي. په هغو ټولنو کې چې نظامونه یې په اقتصادي او سیاسي لحاظ مظبوط وي، هلته رژیمونه ژر نه بدلېږي. د رژیمونو بدلېدو عمده لاملونه ډېر دي؛ د بېلګې په ډول، د اقتصادي انډول خرابېدل، د طبقاتي اړیکو تشدید، د قدرت د ستنو په منځ کې د انډول خرابېدل، د نظام ناسم مدیریت او د بهرنیو او کورنیو ګټو تر منځ ټوپیرونه او تضادونه. ځیني تضادونه که په مجموعي ډول لاسونه سره ورکړي، نو د یوه انقلابي بدلون شرایط را برابروي چې د بل مبحث موضوع ده.

موږ په دې لیکنه کې غواړو چې د افغانستان اقتصادي ودې انډکس (Gross Domestic Product) او په افغانستان کې د دغه انډکس او د نظامونو د بدلون پر اړیکو خبرې وکړو. دغه لیکنه د افغانستان اقتصادي وده او یا رکود او یا د یادو شاخصونو تر سیوري لاندې د نظامونو بدلېدل تر لنډ غور لاندې نیسي.

**لومړی: د ظاهرشاه د واکمنۍ د وروستیو کلونو اقتصادي ناکامي**

په معاصر تاریخ کې د هېواد لومړی اقتصادي رکود یا منفي وده په ۱۹۷۲(۱۳۵۱) کال کې پېښه شوې ده؛ دغه رکود د ظاهرشاه واکمنۍ په وروستي کال کې منځ ته راغله. اقتصادي وده منفي ۱۶.۴ سلنې ته راټیټه شوه؛ یانې د ۱۳۵۰ کال په پرتله اقتصاد ۱۶ سلنه نور هم ویجاړ شو. د دې ډېر علتونه وو چې کولای شو د وچکالۍ، ضعیفو تولیدي قواوو پرمختګ، د اقتصاد په پرمختګ کې د دولت ټنبله ونډه او د چارواکو بې تفاوتي او غفلت یاد کړو. په حقیقت کې د سردار محمد داوود لخوا د نظام بدلېدل او د شاهي نظام ختمولو له عیني شرایطو څخه یو یې همدا اقتصادي منفي ۱۶ سلنه وده وه.

**دویم: د سردار محمد داوود د جمهوري نظام اقتصادي نیمګړتیاوې**

په ۱۳۵۲ کال کې شاهي رژیم رنګ او پر ځای یې جمهوري نظام را منځ ته شو. له ۱۳۵۲ کال وروسته بیا تر ۱۳۵۵ کال پورې د ظاهرشاه د وروستي کال اقتصادي سقوط تر یوې اندازې جبران شو، خو بیا یې هم نښې نښانې موجودې وې.

د سردار داوود په دوره کې د پنځه کلن پلان پخ عملي کول، له مولده قواوو څخه ګټه نه اخیستنه، د ۱۳۵۱ کال د اقتصادي سقوط تاثیراتو شتون او په نظام کې د ناخوالو لړۍ بیا اقتصادي وده منفي ته ور وغورځوله. په ۱۳۵۶ کال کې د هېواد اقتصادي وده منفي پنځه سلنه وه؛ یانې کلني عواید ۵ سلنه لږ شول او د خلکو د ژوند وضعیت نور هم خراب شوی و. له هېواد څخه څه د پاسه یو میلیون د کار قوه یا د هېواد د کار قوې د نفوسو ۱۶ سلنې بهر ته د کار او روزګار لپاره هجرت کړی و؛ دا په دې مانا ده چې په هېواد کې دننه د مولده قواوو د کارموندنې شرایط نه وو برابر شوي. پر دې سربېره، دولت پرېکړه کړې وه چې د مولده قواوو (د مسلکي کارګرانو) شمېر ډېر کړي او د دې لپاره یې د اتم صنف کانکور رامنځته کړ. د دغه کانکور په نتیجه کې هر کال څه باندې پنځوس زره ځوانان له ښوونځیو څخه و ایستل شول او د مسلکي زده کړو لپاره وهڅول شول، بې له دې چې د مسلکي زده کړو شرایط ورته برابر شي. دولت په دې امید و چې په خلیجي هېوادونو کې به افغانان په کار وګومارل شي او بهرني اسعار (کرنسي) به هېواد ته را وارد کړي؛ خو د کار قوې د خرڅلاو لپاره هم کوم منظم پلان نه و جوړ شوی. دغه او څو نورو پرېکړو د ۱۳۵۶ کال له منفي اقتصادي ودې سره لاسونه سره ورکړل او د ثور پاڅون عیني شرایط یې برابر کړل.

**درېیم: د ۱۳۵۷ کال د ثور له انقلابي پاڅون وروسته په پنځوسو کلونو کې لومړۍ اقتصادي وده**

که څه هم چې د جمهوري نظام را پرځونې ډېر دلیلونه درلودل، چې په هغو کې عیني او ذهني شرایط د ثور انقلابي پاڅون سبب وګرځېدل؛ خو د عیني شرایطو له جملې د هېواد دویم اقتصادي رکود (منفي پرمختګ) د نظام د راپرځېدنې یو له عمده لاملونو شمېرل کېږي.

د ۱۳۵۱ او ۱۳۵۶ کلونو اقتصادي رکود یا منفي ودې په نتیجه کې ټولنیز حالت خراب شو او د هېواد څه د پاسه ۱۶ سلنه کاري قوه مهاجره شوه. د ۱۳۵۶ کال د منفي پنځه سلنې اقتصادي ودې له نورو عواملو سره لاس یو کړ او د ثور پاڅون سبب شول. د خلق ګوند او ډیموکراتیک دولت لخوا په لومړي کال کې ځیني رغنده او کوټلي (Aggressive) ګامونه واخیستل شول، چې د اقتصادي ودې لپاره یې خوځوونکي (Stimulus) وظیفه اجرا کړه. د بېلګې په ډول، د کرنې په سکټور کې د بزګرانو د پورونو له بښنې وروسته خوځوونکې حرکت د زراعتي توکو د بېساري ډېروالي سبب شو. د کور جوړولو په سکټور کې خوځوونکې اقتصادي حرکت او د تجارت او تعرفو راټیټولو په برخه کې د ځینو مهمو ګامونو اخیستل نه یوازې مولده قوه وهڅوله، بلکې د خلکو د اقتصادي اعتبار باعث وګرځېد. په نتیجه کې د ۱۳۵۷ کال اقتصادي تصویر له انتظار نه لرې مثبت ۷ سلنه و چې افغانستان په څو لسیزو کې داسې اقتصادي وده نه وه کړې.

په همدغه کال د افغانستان ریټینګ (نومره) د نړۍ په اقتصادي معاملاتو کې جګه ولاړه او ځینو نړیوالو موسسو د پانګې اچونې اشتها پیدا کړه، خو دغه اقتصادي ګام ډېر لنډمهال و او نوي رژیم ونه شو کړای چې دغه مومینتوم وساتي. د خلق ګوند په مشرتابه کې کورنۍ لانجو او د بهرنیو مداخلو په نتیجه کې د ۱۳۵۸، ۱۳۵۹ او ۱۳۶۰مو کلونو اقتصادي پرمختګ بېرته شاته ولاړ او منفي ۲ سلنې ته په ۱۳۵۸ او منفي ۳ سلنې ته په ۱۳۵۹ کال کې راټیټ شو.

د ۱۳۵۸ کال جي ډي پي وده که څه هم چې منفي دوه سلنه وه، خو د تېر ۱۳۵۷ کال د ۷ سلنې مثبتې ودې تر سیوري لاندې یې بیا هم د اقتصادي خوځښت لاره ووهله او د سردار داوود د دورې اقتصادي پرمختګ په پرتله پنځه سلنه ډېره وه.

**څلورم: د شوروي یرغل او د ببرک کارمل دوره**

په ۱۹۸۰(۱۳۵۹) کال کې د چارو واګې ببرک کارمل ته په لاس ورغله؛ که څه هم چې د شوروي پوځ پر افغانستان تېری کړی و او باید یې له ځان سره ځینې اقتصادي مرستې هم راوړې وای؛ خو په دې کال کې اقتصادي رکود تقریباً منفي ۴ سلنې ته ورسېد. په ۱۳۵۹ کال کې او وروسته له هغه د شوروي یرغل په کلونو کې اقتصادي وده د مثبت ۲ سلنې په شاوخوا کې وه، چې له انتظار نه لرې ټیټه وه. دغه وده په ۱۹۸۷ (۱۳۶۷) کې منفي ۱۰ سلنې ته ورسېده چې نه یوازې یې د نظام د بدلون زنګ وغږاوه، بلکې د شوروي پوځ د وتلو مانا یې هم ورکوله.

# د سولې هڅې او ډېرېدونکی تاوتریخوالی؛

## عبدالله عبدالله: اوربند ته جدي اړتیا ده، طالبان دې ژر تر ژره مذاکرات پیل کړي



افغان لوری د بین الافغاني خبرو د ژر تر ژره پیلېدو غوښتنه کوي. سره له دې چې څه باندې یوه میاشت کېږي، چې بین الافغاني مذاکرات ځنډېدلي، خو طالبان یې لاملونه بېل ښیي، افغان حکومت بیا پر دې باور دی، چې طالبانو تاوتریخوالی ډېر کړی او د مذاکراتو له مېز په شا شوي دي. د ملي مصالحې عالي شورا بیا ټینګار کوي، چې اوربند او د تاوتریخوالي کمېدل د افغانانو غوښتنه ده او طالبان باید تاوتریخوالی کم کړي او له جګړو لاس واخلي. بلخوا په پلازمېنه کابل او ولایتونو کې بیا د تاوتریخوالي اوج خلک اندېښمن کړي دي.

کابل تېره ورځ هم د ورمې ورځې په څېر د بورنوونکو امنیتي پېښو شاهد و. مازیګر مهال یوې چاودنې د کابل ښار په برکي ځلور لارې کې مرګ ژوبله واړوله او له دغه پېښې په ټولنیزو رسنیو کې خپرې شوې ویډیوګانې او انځورونه خورا بورنوونکي دي. ورمه ورځ هم په کابل کې تر ماښامه درې پرله پسې چاودنې وشوې، چې پنځه کسان یې ووژل. د دغو پېښو مسوولیت هېڅ ډله نه مني، خو افغان حکومت یې بیا په اړه د پلټنو او څېړنو خبره کوي.

بلخوا د افغانستان د ملي مصالحې عالي شورا رییس ډاکټر عبدالله عبدالله بیا د دې غوښتونکی دی چې بین الافغاني مذاکرات ژر تر ژره پیل شي. ډاکټر عبدالله عبدالله تېره ورځ په یوه خبري کنفرانس کې د خبرو پر مهال وویل، چې د تاوتریخوالي کمېدل او د جګړو ختمېدل د افغانانو ستره غوښتنه ده او طالبان باید د افغان ولس غوښتنې ته درناوی وکړي. د ده په خبره: «اوربند د افغانانو مهمه او اصلي غوښتنه ده. د تاوتریخوالي دوام هره ورځ له افغانانو قرباني اخلي. دا لړۍ باید پای ته ورسېږي».

عبدالله د خپلو خبرو په دوام له وسله والو طالبانو وغوښتل، چې ژر تر ژره تاوتریخوالی ختم کړي او د مذاکراتو مېز ته راوګرځي. د ده په خبره، د افغان حکومت مذاکراتي پلاوی لا هم په دوحه کې دی او لا هم د دې لپاره تیار دی چې له طالبانو سره خبرې پیل کړي، خو دې ډلې ته په کار ده چې خبرو ته ادامه ورکړي. عبدالله دغه راز وایي چې د طالبانو له لوري روان کړی تاوتریخوالی هم هره ورځ له عامو افغانانو قرباني اخلي. د ده په وینا: «موږ د دې غوښتونکي یو چې ژر تر ژره مذاکرات په جدي توګه پیل شي او دوام پیدا کړي».

ډاکټر عبدالله عبدالله داسې مهال دغه څرګندونې کوي، چې تېره ورځ د امریکا د بهرنیو چارو وزیر هم پر افغان سوله څرګندونې لرلې. نوموړي له ډاکټر عبدالله عبدالله سره په خبرو کې ویلي، چې دوی په افغانستان کې د روانې جګړې د پای ته رسېدو ملاتړي دي او په دې برخه کې خپلې همکارۍ ډېروي. عبدالله بیا ویلي چې له انتوني بلینکن سره یې د طالبانو له لوري پر روان تاوتریخوالي هم خبرې کړې دي. د ده په خبره، دواړو لورو ټینګار کړی چې باید طالبان تاوتریخوالی کم کړي او جدي مذاکراتو ته ادامه ورکړي.

بلخوا د تاوتریخوالي په اوج کې د سیاسي چارو شنونکي هم وایي چې د جګړو د دوام او تاوتریخوالي د دوام لامل د امریکا کړنې دي. د سیاسي مسایلو څارونکی او د پوهنتون استاد فیض ځلاند وایي، طالبانو تاوتریخوالی ډېر کړی او لامل یې هم دا دی چې فکر کوي جو بایډن به له خپلو ژمنو په شا شي. د ده په خبره: «طالبانو ځکه تاوتریخوالی ډېر کړی، چې فکر کوي بایډن به پر خپلو ژمنو عمل و نه کړي».

بلخوا طالبانو ته نږدې سرچینې بیا وایي، چې له دوی سره په هوکړه کې پر شویو ژمنو عمل نه دی شوی. د دوی په خبره، د هوکړې له مخې یې مشران له تور لېست نه دي ایستل شوي، د بندیانو مسئله یې نه ده روښانه شوې او د بهرنیو ځواکونو د وتلو برخلیک هم تر دې دمه نه دی واضح شوی. افغان حکومت بیا په دې باور دی چې طالبانو پر ژمنو عمل نه دی کړی او دمګړۍ له مذاکراتو هم په شا شوي دي.

## ظریف:

# امریکا دې د ۲۰۱۵ز کال تر تړون مخکې بندیزونه لرې کړي

د ایران د بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف وایي، د ۲۰۱۵ز کال اټومي تړون د بیا عملي کېدو لپاره امریکا باید لومړی ګام واخلي او پر ایران لګول شوي بندیزونه لرې کړي. ظریف ټینګار کړی، چې تهران په دې تړاو هېڅ ډول ګام نه اوچتوي.

دا په داسې حال کې ده چې امریکا تېره اونۍ وویل، چې غواړي بېرته د ۲۰۱۵ز کال اټومي تړون ته ور وګرځي. دا تړون ایران ته اجازه نه ورکوي چې اټومي وسلې ولري او په بدل کې یې پر دغه هېواد ډېری نړیوال بندیزونه لېرې کېږي. د امریکا مخکیني ولسمشر دونالډ ټرمپ په ۲۰۱۸ز کې له دغه تړون څخه وتلی و او پر ایران یې بندیزونه هم لګولي وو. هغه ویلي وو چې دا تړون د ایران په ګټه دی. ایران هم په دې وروستیو کې اعلان وکړ، چې دغه تړون ته ژمن نه دی.

ظریف د ایران انګلیسي ژبې تلوېزیون ته ویلي: «امریکا د بندیزونو تر لرې کېدو مخکې نه شي کولی بېرته له دغه تړون سره یو ځای شي... هرکله چې ټولو اړخونو خپل تعهدات عملي کړل، بیا به خبرې کېږي.»

دغو بندیزونو او د کروناویروس ایران په اقتصادي لحاظ ډېر ځپلی دی. تېرکال د ایران پارلمان یو قانون تصویب کړ، چې حکومت مجبوروي هغه الحاقي پروتوکول لغوه کړي، چې د اټومي انرژۍ نړیوال سازمان ته اجازه ورکوي د ایران په هغو ځایونو کې هم لنډمهالې ارزونې وکړي، چې مشخص شوي نه دي.

په همدې حال کې د ایران دولتي رسنۍ وایي، چې د اټومي انرژۍ د نړیوال سازمان مشر رافایل ګروسي په تهران کې دی، چې ایران د اټومي انرژۍ له مشر سره د اړینو فعالیتونو د تایید مسئله وارزوي.

د اټومي انرژۍ په نړیوال سازمان کې د ایران استازي کاظم علي ابادي پر خپل ټویټر لیکلي، چې د ایران د اټومي انرژۍ سازمان مشر علي اکبر صالحي له ښاغلي ګروسي سره د اټومي پروګرام په تړاو مهمې خبرې کړې دي. تېره اونۍ د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلېنکن د ۲۰۱۵ز کال تړون په اړه د برېټانیا، فرانسې او جرمني د بهرنیو چارو له وزیرانو سره خبرې وکړې.

د دغو وزیرانو په یوې ګډې اعلامیې کې راغلي: «که ایران د اټومي پروګرام په اړه په خپلو ژمنو جدي عمل وکړي، د امریکا متحده ایالتونه به هم همدا کار وکړي او چمتو دي، چې له ایران سره په دې اړه خبرې وکړي».


په ورته مهال رویټرز خبري اژانس د ظریف له خولې لیکلي، که امریکا د ډونالډ ټرمپ له لوري ټول لګول شوي محدودیتونه سملاسي لرې کړي، هغوی به هم پیل شوي اصلاحي اقدامات خپل پخواني حالت ته ور وګرځوي.

## د کتـاب خبـرې

# د جاسوسۍ پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادیتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ


### څلورمه برخه
کابوکي




ای. اس. دولت: بالکل دغسې ده.
دوراني: دویمه دا چې، که سړی د شرافتمندانه جگړې مثال ورکوي، نو په ۱۹٦٥ او ۱۹۷٥ کې د هند او پاکستان ترمنځ شوې جگړې یې اعلی مثالونه دي. ځکه دواړو هېوادونو په دغو جگړو کې د ملکي اهدافو له وېشتلو ډډه کوله.
دولت: په دواړو جگړو کې؟
دوراني: بالکل په دواړو جگړو کې. دربیمه هغه ډېره مشهوره نه ده. دواړو هېوادونو له اټومي تجربو وروسته لومړی کار دا وکړ چې د دواړو هېوادونو د مشرانو تر منځ د مستقیمو خبرو لپاره یې یوه ټلیفوني کرښه پرانیسته، چې د یو بل د کړنو په تړاو ناسم پوهاوی (سؤ تفاهم) رامنځته نه‌شي؛ مثلاً د توغندي ازمایل پر اټومي برید تعبیر نه‌شي.
همدغه یوازینۍ کرښه ده چې هر وخت فعاله وي. د دواړو هېوادونو او آن د نورو مستقیمو ټلیفوني کرښو معلومات هم راته شته، کله ناکله یوه خوا د دوو ساعتونو لپاره ځواب ورکول ځنډوي.
سېنها: یو مثال به یې یاد نه کړئ؟
دوراني: د اوربند تر ماتولو وروسته دې گټه په دې کې وي چې غلی پاتې شي. ستاسې (ایم او) دغسې کوي. زموږ خوا ته هم که کومه خبره وي، نو ټلیفون نه ځوابوي. خو دغه د اټومي ادارو ترمنځ مستقیمه ټلیفوني کرښه همېشه فعاله وي. ځکه اهمیت یې ډېر دی.
دولت: په ناستو، غونډو، خبرو اترو او مذاکراتو کې ډېرې مثبتې خبرې مخې ته راتلای شي. د ملي امنیت سلاکارانو ترمنځ چې راشه درشه وه، نو ډېره ښه وه؛ خو پاکستانی اړخ وایي چې اوس دغسې څه نشته. وایي اوس د ملي امنیت سلاکاران یوازې پر ټلیفون سره غږېږي. دا نو د تأسف وړ خبره ده. ځکه که په خبرو کې ښه څه مخې ته درشي او غواړئ چې سره کښېنئ او پیالې سره وکړنگوئ؛ نو ولې دغه کار نه کوئ؟ په خبرو اترو کې هېڅ شی بایلې نه، برعکس گټې یې ډېرې دي. په دې برخه کې نو واجپای د ستایلو وړ دی، له لاهوره د لیدنې پر مهال، «منار پاکستان» ته لاړ. پوځ ورته گوته په غاښ پاتې و. دغلته یې ډېره زوروره وینا وکړه. ده وویل، پاکستان یو خپلواک هېواد او موږ ورسره دوامداره او ښې اړیکې غواړو. د گورنر د مېلمستیا په تړاو ډېرې کیسې مشهورې دي، واجپای په دغې مېلمستیا کې پاکستانیان پر دې ډېر خوشاله کړل چې دا یوازې دی کولای شي. ده په مېلمستیا کې ویلي ول: «زما د گوند غړي لاهور ته زما له راتگ سره مخالف و، خو که دوی خبر شي چې ما د کتونکیو په کتاب کې څه لیکلي دي، وایي به چې څه لاهور ته تگ به درسره ومنو، خو دغه ځای ته د تللو څه اړتیا وه، دې ټاپې وهلو ته څه اړتیا وه.» زه وایم پاکستان زما د تایید ټاپې ته اړ نه دی، پاکستان خپله ټاپه لري. په کشمیر کې چې ده د انسانیت په تړاو څه ویلي، هر کشمیری به درته وایي چې په تاریخ کې د واجپای غوندې کس نشته. خو پوښتنه دا ده چې د مطلب همدغه خبره وه، که نه؟ دا د اغېز پوښتنه ده او مثبته خبره وه. لکه د ۲۰۰۳م د اپریل پر ۱۷مه چې دی پاکستان ته لاړ او هلته یې د خلکو یوې غونډې ته وویل؛ «ما پاکستان ته د خبرو اترو وړاندیز وکړ.» د گډونوالو د چکچکو شور جوړ و.
جنرال صېب د هند او پاکستان په جگړو کې شوي ښه چلن ته اشاره وکړه. زموږ د ملگري (ډي آی جي) کیسه ډېره جالبه ده. پخوا دی په پوځ کې و، له پوځه د پولیسو لیکو ته راغلی دی. په ۱۹۷۱ کې دی د جگړې بندي شوی و. د زندانیانو مسئول یو دویم بریدمن و. ده (شوکت) راته ویل چې دغه سړی به راته پیدا نه کړې، په جالندر کې اوسېږي، ویل غواړم له ده سره وگورم او مننه او کوروداني ورته ووایم. که خبرې هر څنگه رواني وي، خو چې موږ هندیان او پاکستانیان چې سره یو مېز ته کښېنو او پیالې سره کړنگوو، نو دا کاناډایان او امریکایان چې راته گوري، اور پرې بلېږي. دوی به هرو مرو له ځانو سره وایي چې دا خوگان یو بل ښه په ختهو ولړي خو بیا هم له یو بل سره یو ځای گرځي.
دوراني: تاسو د زندانیانو خبره وکړه، په ۱۹٦٥ جگړې کې زما فرقې په چمبر برخه دویم بریدمن «شرما» او د ده مرستیال ژوندي نیولي وو. د شته پروټوکولونو له مخې د جگړې لومړۍ کرښې به د بندیانو شمېر، نومونو او رتبو تر لیکلو وروسته به یې مرکزي قوماندانیو ته لېږل. دی چې مو ونیو را ته کړل یې: «په یو شاوروز کې مې پر ډوډۍ څکه کړې نه ده.» موږ خپله دغلته چای نه څښو، خو ده ته مو سمدستي پیاله ور ډکه کړه.
پاکستاني سرتېرو به اسیران پوښتل:« کدهر سے ایے ہو بهائی، اچها ہاں ہاں؛ مانا دا چې ورورہ له کومه ځایه راغلی یې، ښاښا زما والدین هم د دغه ځای دي.» په موږ کې یو تن و، چې له هندیانو سره یې نه لگېده، ده ورته وویل: «Oh Lala e Oye» چې د هندوانو پر خلاف لړه سپکه خبره ده. بس همدغه یکي یوه بده خبره ورته شوې ده. موږ به هندیانو ته په ټوکو ویل چې ستاسې ټول سرتېري یا د گجرات وي او یا د لاله موسی وي، کاشکې یو څه هندي سرتېري هم پکې وای.
**دوام لري...**

# نایک

حشمت الله نوري



نایک د متحده ایالاتو څو ملتي شرکت دی چې د ډیزاین، پراختیا، تولید او په نړۍ کې د بازارموندنې او د فوټبال، پوښاک، تجهیزاتو، لوازمو او خدماتو پلور کې فعالیت لري. دغه شرکت د میټروپولیټین سیمه کې بیورټن اوریگون ته نږدې موقعیت لري. دا په نړۍ کې ډول ډول سپورټي بوټان، جامې او د سپورټي تجهیزاتو په برخه کې د نړۍ د لویو تولید کوونکو شرکتونو په ډله کې راځي، چې په ۲۰۱۲ کال کې یې د ۲۴.۱ میلیاردو ډالرو څخه ډېر عواید تر لاسه کړل او په خپل شرکت کې تر ۴۴۰۰۰ ډېر خلک یې په دنده گمارلي وو. په ۲۰۱۴ کال کې یوازې د نایک نښې یا لوگو ۱۹ میلیارده ډالر ارزښت درلود، چې دا د سپورټ د سوداگرۍ تر ټولو ارزښتناکه نښه ده، چې تر ۲۰۱۷ کال پورې د نیک برانډ ارزښت ۲۹.٦ میلیاردو ډالرو ته رسېږي. نایک د متحده ایالاتو تر ټولو لویو کمپنیو په لېست کې راځي، چې د ۲۰۱۸ کال د ۵۰۰ کمپنیو لېست کې په ۸۹ نمبر راغلی و.
دا شرکت د ۱۹٦۴ کال د جنورۍ په ۲۵مه د بل ببرمن سپورټ په نوم تاسیس شوی و، د بل بوورمین او فیل نایټ لخوا کار پیل شو او په رسمي ډول د ۱۹۷۱ کال د مې په ۳۰مه یې نوم نایک ته واړول شو. دا نوم یوناني ریښه لري چې د بریا مانا ورکوي. نایک خپل محصولات د خپل برانډ د ساحې د پراخولو لپاره پلوري، نایک د نړۍ په گوټ گوټ کې ډېری لوړپوړي ورزشکاران او د سپورټ ټیمونه سپانسر کوي. د «جسټ ډو ایټ» شعار په درلودو یانې حرکت وکړه او یا عمل وکړه او پېژندل شوې سوداگریزې لوگو نښې سره په نړۍ کې ښه پېژندل شوی دی.
نایک چې په اصل کې د نیلي ربن سپورټ (BRS) په نوم پېژندل شوی، د اوریگن ټریک پوهنتون اتل فیل نایټ او د هغه د روزونکي بل باورمان لخوا د ۱۹٦۴ کال د جنورۍ په ۲۵مه تاسیس شوی. دې شرکت په پیل کې په جاپین او اوریگون کې د جاپاني جوتا جوړوونکي اونیتسکا ټاگر لپاره د توزیع کوونکي په توگه کار کاوه.
نایک خپل لومړی پرچون پلورنځی په سانټا مونیکا او کالیفورنیا کې پرانیست. په ۱۹٦۷ کال کې یې د زیات پلور له امله په ختیځ ساحل کې د پرچون او توزیع عملیات پراخ کړل.
په ۱۹۷٦ کال کې د دې شرکت مالک جان براون او شریک یې په سیټل کې مېشت شول، چې هغه د اعلاناتو لپاره لومړۍ اداره را منځته کړه او راتلونکی کال دې ادارې د نیک لپاره لومړی «برانډ اعلان» جوړ کړ، چې «پای پای هیڅ نه لري» نومېده، په کوم کې چې د نیکي هیڅ محصول نه و ښودل شوی. په ۱۹۸۰ کال کې نیک د متحده ایالاتو اتلیټیک بوټانو بازار کې ۵۰ سلنه ونډه تر لاسه کړه او شرکت د همدې کال په ډسمبر کې خپله د کار او پلور ساحه نوره هم پراخه کړه .
د ۱۹۸۰ کال په جریان کې نایک د خپل محصول لاین پراخ کړ، څو په ټوله نړۍ کې ډېری سپورټي کلپونه او سیمې تر خپل پوښښ لاندې راولي. په ۱۹۹۰ کال کې نیک په بیریټن او اوریگون کې د نړۍ په اتو نوموتو ودانیو کې خپل مرکزي دفترونه فعال کړل. د نایک لومړی پرچون پلورنځی چې نیکټاون نومېږي، د همدغه کال د نومبر په میاشت پورټلینډ ښار کې پرانیستل شو. د ۲۰۲۰ کال د جنوري په ۱۳مه پارکر دې دغه شرکت د رییس په توگه وټاکل شو. د هغه لومړی اقدام دا و چې شرکت د امازون له لارې مستقیم پلور بند کړي او له پیرودونکو سره یې پر مستقیمو اړیکو باندې ډېر تمرکز وکړ.
اوس اوس د نایک د بوټانو یا جامو راتلونکې سپارښتنې د تېر ۲۰۲۰ کال د ډسمبر او اپرل تر منځ د تحویلۍ لپاره ۱۰ میلیاردو ډالرو ته لوړې شوې دي.
نایک د سپورټي تجهیزاتو پراخه لړۍ، د تولید ښه امکانات او سهولتونه لري . د دې شرکت بوټان ډېر نوموتي او د مینه والو له تاوده هرکلي سره مخ شوي دي. دوی دا مهال د لوبو لپاره بوټان برابره وي چې بېلابېل نومونه او ځانگړنې لري. مهم هغه یې دا دي: جرسي، شارټس، کلیټس، بیسلیئرز او د دې په گډون د ټریک او فیلډ، بیس بال، آیس هاکي، ټینس، انجمن فوټبال (فوټبال)، لاکروز، باسکټبال او کرکټ لوبو لپاره بوټونه جوړوي.
د نایک د محصولاتو یوه ځانگړنه دا ده چې د نړۍ په کچه هر ډول ورزش او ورزشکارانو لپاره هغه که نارینه، ښځې او یا هم ماشومان وي، دې ټولو لپاره ځانگړي محصولات او خدمات لري.
نایک د بیرونیو فعالیتونو لپاره بوټان هم پلوري، لکه ټینس، گالف، سکیټ بورډینگ، فوټبال، بیسبال، امریکایي فوټبال، بایسکل، والیبال، ریسلینگ، چیرلیډینگ، آبیټیک فعالیتونه، آټو ریسینگ او نورو ورزشي فعالیتونو لپاره.
نایک په ټوله نړۍ کې له ۷۰۰ ډېرو پلورنځیو سره تړون کړی او له متحده ایالاتو بهر په ۴۵ هیوادونو کې دفترونه لري. ډېری فابریکې یې په اسیا کې موقعیت لري، چې د اندونیزیا په گډون، چین، تایوان، هندوستان، ټایلینډ، ویتنام، پاکستان، فیلیپن او مالیزیا کې هم فعالیت لري.
نیک خپل محصولات د مشهورو اتلانو، مسلکي ټیمونو او کالج اتلانتیک ټیمونو سره د سپانسرشیپ تړونونو له لارې تر خلکو رسوي. په همدې توگه یې د نړۍ په مارکېټ کې ځان ته ښه ځای غوره کړی دی.
نیک په ۲۰۰۰ او ۲۰۰۲ کلونو کې د غوره سوداگریزو اعلانونو جایزه هم تر لاسه کړې، چې په هغه کې خلک سپورت ته هڅه وي.
د ۱۹۹۰یمو کلونو په لومړیو کې نایک د انجمن فوټبال سوداگرۍ ته خورا زور ورکړ، چې د مشهورو لوبغاړو لکه روماریانو، ډیویډس رونالډو، رونالډینډو، فرانسیسکو توټي اندریس انیستا، د کریسټینیو رونالډو او یونل مسی نیمار ته بوټان جوړوي .
په ۲۰۱۲ کال کې نیک د آسیا فوټبال کنفډریشن سره سوداگریزه ملگرتیا وکړه. د ۲۰۱۴ کال په اگست میاشت کې نیک اعلان وکړ چې دوی به له ۲۰۱۴ کال وروسته د مانچسټر یونایټډ سره د خپلو سوداگریزو اعلانونو تړون نوی نه کړي، ځکه غوښتل یې چې په اسیا لویه وچه کې خپلو محصولاتو ته ښه بازار پیدا کړي.
نایک اوس د سپورټي تجهیزاتو پراخه لړۍ پیل کړې او ډول ډول جامې او بوټان تولیدوي، چې د نړۍ په کچه یې ساری کم لیدل کېږي. د دوی لومړی محصول یوه جوړه بوټان وو چې په لاس او ډېر ابتدایي شکل جوړ شوي وو؛ خو دا مهال له ۷۰۰ رقمونو زیات بوټان او همدارنگه سپورټي جامې د هر موسم، هر سپورټ او هر سپورټي ټیم چې وغواړي په ځانگړو مشخصاتو او عالي کیفیت ورته چمتو کوي. اوس هم د نړۍ د بېلابېلو سپورټونو مهم او مشهور لوبغاړي او ټیمونه د نایک له جامو څخه استفاده کوي. مهم هغه یې دا دي: بیس بال، آئس هاکي، ټینس، ساکر، لاکروس، باسکیټبال او کرکټ.
د نایک اوسنۍ لوگو یا سمبول د ۳۵ امریکایي ډالرو په مقابل کې ډیزاین شوې، چې مانا یې هم د باد په څېر حرکت وکړ. کله چې پارکر د اجراییوي رییس په توگه راغی، د نایک د برانډنک لپاره یې ډېر څه وکړل، هم د ډیزاین او هم د بازارموندنې او اړیکو په برخه کې. نایک د سپورټ په ډگر کې د یوې سروې له مخې ٦۲ سلنه بازار د خپلو محصولاتو لپاره پیدا کړی دی او لایې هڅې روانې دي، چې له لوبغاړو او سپورټي مشهورو ټیمونو سره اړیکې ټینگې کړي او د دوی په خوښه ورته د نایک محصولات تیار کړي.
یاد شرکت همدارنگه په ډیزاین، تولید او بازارموندنه کې ټکنالوژۍ ته د ژمنتیا لپاره او همدارنگه له خپلو پلورنځیو سره د متقابل عمل لپاره خپلې اړیکې ډېرې گرمې ساتي. نایک په دوامداره توگه تر نن پورې په کلنې پلور کې ۸.۵ سلنه وده کړې. یاد شرکت په ۲۰۲۰ کال کې د ۵۰ میلیاردو ډالرو پلور هدف ځان ته ټاکلی و، خو د کرونا ویروس په خپرېدو سره یې ونشوای کړی چې ټاکلی هدف تر لاسه کړي.
د نایک شرکت بله ځانگړنه دا ده چې د نړۍ د سپورټي ټیمونو او اتلانو لپاره ځانگړي مختصصین لري او په هر ټیم او لوبغاړي باندې کار کوي، څو د هغوی مشترکات او د خوښې وړ ټکی راپیدا کړي او په نوې بڼه او ډیزاین محصولات ورته چمتو کړي.
د نایک شرکت بله ځانگړنه دا ده چې کومه بودیجه چې د خپلو کارکوونکو د ظرفیت او بازارموندنې لپاره ځانگړې کړې، د خپلو نورو سیالو شرکتونو له ټولټال عوایدو سره برابره ده، نو داسې ځرگندېږي چې نایک په خپل داخلي ظرفیت او په نړۍ کې د خپلو محصولاتو او خدماتو لپاره ډېر او سخت کار کوي. نیک د فوټبال په برخه کې په نړۍ کې لومړی مقام خپل کړی او حتی په جرمني کې دا د خپل اوږد مهال سیال ایډیډاس په له منځه وړلو کې بریالی راوتلی دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷.۳۰ |
| € | ۹۳.۴۰ |
| Rp. | ۵۸۶ |
| ₹ | ۱۰٦۵ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۷.۸۰ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

## همیانی

# څنگه خپلې موخې وپېژنو؟

ژباړه: حامد احمدزی

ایا کله مو داسې فکر کړی چې خپل ځان درنه ورک وي او یا مو هم په ژوند کې یوڅه کم دي؟ ممکن تاسو وغواړی چې په خپل ځان او ژوند کې پراخ بدلون رامنځته کړی، خو دغه بدلون څه ډول رامنځته کولی شو؟ ډېری کسان په ژوند کې له بېلابېلو ځیزونو سره ډېره مینه او علاقه لري، خو کله چې ورته رسیدلی نشي، نو بیا ناهیلي شي او ژوند ورته ستونزمن شي.

ستاسو په ژوند کې تر ټولو ښې ورځې ستاسو د پیدایښت او بله هغه ورځ ده چې پوه شی له ژونده مو موخه څه ده، خو که په دې پوه نشی چې موخه مو څه ده او د څه لپاره دې دنیا ته راغلي یی؛ بیا ژوند کیدای شي درته سخت شي.

په دې لیکنه کې مو همدې ټکو ته اشاره کړې چې څنگه کولی شو په ژوند کې خپلې موخې وپیژنو.

زه دا احساس ښه پیژنم. په ډېرې سختۍ سره مې دا هڅه کوله څو خپله موخه پیدا او وپیژنم، خو په وجود کې مې یو ډول شور دننه ځورولم، ځینې کارونه وو چې له هغو مې کرکه درلوده، د بېلگې په ډول، له خاورو او دوړو ډکه هوا او د خلکو زیاته گڼه گوڼه! خو هغه څه مې چې غوښتل، هغه له ژوند او کار سره زیاته مینه وه.

ما هره ورځ له ځان سره د خپلې موخې موندلو لپاره مبارزه کوله، خو کله مې چې یو گام وروسته واخیست او پوه شوم چې زما هدف هغه څه نه و چې په خپل ذهن او فکر کې مې لټوو؛ فکر مې وکړ کیدای شي اصلي ستونزه دا نه وي چې زه نه پوهیږم موخه مې څه ده؛ اصلي خبره دا ده چې څنگه پوه شم چې دا زما اصلي موخه ده.

موږ نشو کولی هغه څه چې غواړو یوازې په خپل ذهن کې رسم کړو، څو چې لاس پکار نشو موخو ته رسېدل ستونزمن کار دی، یانې هغه څه چې غواړو باید د لاسته راوړلو لپاره یې قدم واخلو او هغه څه چې مو نه خوښیږي؛ له خپلې مخې یې لرې کړو. که د موخې په لټه کې یاست، دا خبرې پرېږدئ چې غواړم دا کار سبا او یا هم کله چې وخت پیدا کړم بیا به یې وکړم؛ ښه ده چې همغه شیبه لاس پکار شئ.

**۱ـ لاس پکار شئ**

دا په یاد ولرئ هر څومره ژر چې اقدام وکړی، هغومره ژر به خپلې موخې ته ورسیږی، نو دا کړنلاره له دې غوره نه ده چې خپل وخت په بېځایه ناسته ولاړه تیروو؟ ایا دې ته اړتیا نه لری چې خپل فکر عملي کړئ؟

ځینې وخت له ځان سره وایو، که له فلان شي سره مینه ونه لرم، نو څه؟ که هغه پیسې مې لاسته رانه وړې، نو څه به وشي؟ دا فکرونه مو له سره وباسئ. پیل وکړئ، د خپلې موخې د لاسته راوړلو لپاره قدم واخلئ او په ژوند کې مو نوي شیان تجربه کړئ. دا له تاسو سره مرسته کوي، څو مو یو اړخیز ژوند ته د پای ټکی کیږدی. زه له ډېر پخوا د خپلې موخې پیدا کېدو په لټه کې وم او له ډېر پخوا مې د همدې لپاره مبارزه کوله؛ خو دا یوازې فکر و او لوړې او ژورې به مې په ذهن کې انځورولې، کله مې چې په عمل لاس پورې کړ، هر څه بدلون وکړ. ما لیکل پیل کړل او د ذهن د ارامښت لپاره مې د چرگ له غوښې او نورو موادو له یوځای کیدو د سوپ جوړېدو په اړه یوه لنډه کیسه ولیکه، تر هغه وروسته مې د مینې په اړه یوه مقاله ولیکه، بالاخره هماغه وو چې مینې زما په زړه کې په حرکت پیل وکړ او ما احساس کړه چې دا هغه څه دي چې باید زما په ژوند کې پېښ شي. زه باید لیکل وکړم، څو پوه شم چې په ژوند کې زما تر ټولو لویه جذبه لیکل دي. دا هرڅه د پرلهپسې عمل په پایله کې هم پېښ شوي دي. تجربه هغه انعام دی چې موږ یې تر لاسه کوو او عمل هغه څه دی چې موږ یې خوږه پایله وینو.

**۲- د خپل زړه خبرې واورئ**

ستاسو زړه ستاسو د رښتیني موخې او لېوالتیا تر لاسه کولو لپاره تر ټولو غوره وسیله ده. له ځانه وپوښتئ، څه شی چې تاسو خوښوی، د هغه په لور مو قدم اخیستی؟ کله چې تاسو خپل داخلي تحرک او د زړه خوښۍ ومومی، الهام او انگېزه به ستاسو زړه او روح ته در وگرځي. کله چې تاسو له خپل زړه څخه امر اخلی، نو طبیعي ده چې ډېر خوندونه اخلی او د هڅولو لپاره مو انگېزه ډېره قوي کېږي. د هغه کار په تر سره کولو چې له هغه سره ډېره مینه لری، ستاسو په وجود کې د هغه د تر سره کولو لپاره انگېزه لا پیاوړې کېږي او تاسو به د هغه څه په اړه پوه شی چې تاسو ته ډېره خوښي درکوي.

**۳- یوازې د یوه کار په لټه کې مه اوسئ**

ډېری خلک په دې فکر کې دي، چې یوازې یو کار تر سره کړي یا د یوه کوچني هدف لپاره کار کوي، دا د دې لامل کېږي چې بیا له ځان سره فکر کوي، چې څه خو به یې ورک کړي نه وي؟ دا فکر چې یو ځانگړی کار دی او دا باید تر سره کړم، موږ د خپلو موخو د تر لاسه کولو له مینې وروسته پرېږدي. زه به د خپلو کارونو په اړه ووایم، په ژوند کې اووه بېلابېل کارونه تر سره کوم، د بېلگې په توگه، مشاور، لیکوال، ویاند، ښوونکی، ډیزاینر او د کلي مشر؛ هر کار چې تر سره کوم، خوند ترې اخلم او خوښي رابښي؛ دا هر کار زه په زور او نه زړه نه تر سره کوم؛ بلکې دا زما ډېر شوق او مینه ده چې تر سره کوم یې. نو بهتره ده چې هر کار په ډېره مینه سرته ورسوئ، کله مو چې ژوند له مینې او خوښیو سره مل و، هماغه ده چې خپلو موخو ته به گام په گام نږدې کېږی. دا فکر له ځان لرې کړئ چې یوازې د یوې موخې لپاره کار کوی، دا باور ولرئ چې د ښه ژوند لپاره باید ښې موخې ولری او نوي شیان باید تجربه کړئ او هغه څه چې ورسره نابلده یاست، مبارزه وکړئ، خپله موخه او احساسات وځارئ، څو یو ښه ژوند ولری.

# ملي امنیت شورا: له افغان حکومت سره نه مشورې، د دوحې تړون بې گټې کړی




ملي امنیت شورا وایي، چې د امریکا او طالبانو ترمنځ د دوحې په تړون کې له افغان حکومت سره اړینې مشورې نه دي شوي. د ملي امنیت شوراویاند رحمت الله اندړ ویلي، چې له همدې امله یاد تړون نه د سولې په برخه کې اغېزناک تمام شو او نه یې هم جگړه ختمه کړه.


نوموړي زیاته کړې، چې په یاد تړون کې داسې اصطلاحات کارول شوي، چې په وینا یې، د جگړې له یوې برخې سره معافیت او رضایت پکې ښکاري.

هغه ویلي: «د امریکانو او طالبانو ترمنځ چې د دوحې تړون کېده، له افغان حکومت سره اړینې مشورې ونه شوې؛ ځکه خو دغه تړون نه د سولې برخه کې اغېزناک و، نه یې وینې ودرولې، نه یې جنگ ختم کړ او نه د افغانانو بدې ورځې پای ته ورسېدې. حتا ځینې داسې اصطلاحات پکې وکارول شول چې د انساني تلفاتو اندازه گیري په اعدادو کېده اورکم د تاوتریخوالي کمښت او نور داسې اصطلاحات چې د جگړې له یوې برخې سره معافیت او رضایت پکې ښکاري.»

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا او طالبانو ترمنځ تړون د ۲۰۲۰ز کال د فبروري میاشتې پر ۲۹مه په دوحه کې لاسلیک شو. تازه د جو بایډن په مشرۍ د امریکا حکومت ویلي چې دغه تړون ارزوي. بایډن دغه راز ویلي چې له ډیپلوماټیکو لارو د افغانستان د جگړې د پای ته رسېدو کلک ملاتړ کوي. د امریکا دفاع وزیر لوېډ اسټین هم ویلي، چې په افغانستان کې تاوتریخوالی باید ژر تر ژره راکم شي او ټولې غاړې یاد تړون عملي کړي.

طالبانو هم تر دې مخکې ویلي، چې یاد تړون یې له خپل اړخه عملي کړی، خو ناټو او ځینو نړیوالو بنسټونو ویلي، چې طالبان باید د تاوتریخوالي کمولو په برخه کې د دوحې پر تړون عمل وکړي.

# پوهنې وزارت: په هېواد کې د جگړو او نښتو پرمهال زر ښوونځي ویجاړ شوي



پوهنې وزارت وایي، چې په تېرو دوو لسیزو کې د جگړو او نښتو له کبله شاوخوا زر ښوونځي ویجاړ شوي دي. د دغه وزارت ویاندې نجیبې ارین ویلي، چې له تېرو ۲۰کلونو راپه دېخوا په افغانستان کې شاوخوا زر ښوونځي د وسله والو نښتو او ځینو نورو لاملونو له امله تخریب شوي دي.

ارین زیاته کړې، چې د یادو تخریب شوو ښوونځیو له ډلې ۷۰ سلنه یې بېرته د پوهنې وزارت له خوا رغول شوي او نور یې د ځینو ستونزو له امله په خپل حال پاتې دي. هغې په مشخص ډول ونه ویل چې دا ښوونځي په کومو ولایتونو کې دي او په جگړو کې د چا له لوري تخریب شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې پوهنې وزارت تر دې وړاندې ویلي وو چې په نا امنو سیمو کې ښوونځي تړل شوي او یا سوځول شوي دي. د پوهنې وزارت ویاندې اوسمهال په افغانستان کې د جگړو له امله د بندو ښوونځیو شمېر په ډاگه نه کړ، خو ویل کېږي چې په ټول هېواد کې سلگونه ښوونځي د جگړو او ځینو نورو ستونزو له امله تړل شوي، چې له امله یې زرگونه زده کوونکي له زده کړو محروم شوي دي.

په همدې حال کې د ملي امنیت شورا سلاکار حمدالله محب د مورنۍ ژبې د نړیوالې ورځې په مناسبت پر طالبانو غږ کړی، چې د ښوونځیو او علمي مرکزونو ورانول ودروي، څو افغان ماشومان په مورنۍ ژبه له زده کړو څخه برخمن شي. محب پر خپل ټویټر لیکلي، چې د ښوونځیو سوځول او په بمونو ورانول په مورنۍ ژبه له زده کړو او د افغان ماشومانو له راتلونکي سره دښمني ده.

دا په داسې حال کې ده چې تېره ورځ (د فبرورۍ ۲۱مه) د مورنۍ ژبې نړیواله ورځ وه او دا ورځ په ټوله نړۍ کې ونمانځل شوه، خو په افغانستان کې د یادې ورځې نمانځلو په مناسبت کوم ځانگړي مراسم نه وو نیول شوي، بلکې ځینو دولتي او خپلواکو ادارو او ځینو چارواکو د یادې ورځې په مناسبت پیغامونه ورکړي دي.

بلخوا طالبانو تر دې مهاله د ملي امنیت شورا د سلاکار د پیغام او بندو ښوونځیو په اړه څه نه دي ویلي، خو تر دې وړاندې یې ویلي وو چې دوی د پوهنې پر وړاندې هېڅ ډول ستونزه نه لري او په دې برخه کې مرستې ته هم چمتو دي.

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL
PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

دوشنبه د ۱۳۹۹ د کب ځلورمه | د ۲۰۲۱ د فبروري ۲۲مه | ٦٨۴یمه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۴ | ۱۸ | ۲۱ | ۱۳ | ۲۱ | ۱۲ |
| ۴ | ۵ | ۱۱ | ۷ | ۱۳ | ۵ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۰۸ | لمر ختل ۰٦:۳۲ | ماسپښین ۱۲:۰۸ | مازیګر ۰۴:۰۴ | ماښام ۰۵:۴۳ | ماخوستن ۰۷:۰۷

## نړۍ



**ظریف: امریکا دې د ۲۰۱۵ز کال تر تړون مخکې بندیزونه لرې کړي**

۳

### ملګري ملتونه:
## د بلک واټر مشر د وسلو نړیوال بندیزونه تر پښو لاندې کړي

د ملګرو ملتونو څېړونکي وايي، د امریکا یوه خصوصي امنیتي قراردادي اېرېک پرنس چې د پخواني ولسمشر ډونالډ ټرمپ متحد دی، په لیبیا باندې د وسلو نړیوال بندیز یې تر پښو لاندې کړی د.
دا خبره د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته په یوه محرم راپور کې شوې ده. د دغه راپور کاپي نیویارک ټایمز او واشنګټن پُسټ ورځپاڼو ته هم رسېدلې دي. په دغه راپور کې ویل شوي، چې پرېنس په ۲۰۱۹ز کال کې د خلیفه حفتر په ملاتړ چې د لیبیا د رسمي حکومت پر ضد جنګېده، د یو لړ عملیاتو وړاندیز کړی و.
نیویارک ټایمز لیکلي، د اېرېک پرنس یو وړاندیز دا و چې د خلیفه حفتر مخالف پوځي مشران باید د یوې ځانګړې ډلې لهخوا هدف وګرځول شي. پرېنس چې د امریکا د پوهنې د مخکیني وزیر ورور هم دی، د یوې لانجمنې امنیتي کمپنۍ (بلک واټر) بنسټګر دی، چې لومړی بلک واټر نومېده او وروسته یې د اکاډمي نوم پرې کېښود. بلک واټر په افغانستان کې هم فعاله وه. په عراق کې دا ډله په ۲۰۰۷ز کال کې د خلکو په وژنې تورنه ده. ټرمپ د دې کمپنۍ څلور هغه غړي چې په عراق کې د خلکو په وژنې محکوم وو، وبښل.

### راپورونه: په امریکا کې د سختو توپانونو او سړې هوا له کبله د کرونا واکسین تطبیق ځنډېدلی



د راپورونو له مخې، ژمنیو توپانونو، سختې سړې هوا او د برېښنا پرې کېدو په امریکا کې د کروناویروس ضد واکسین کولو څه دپاسه ۲۰۰۰ مرکزونه بند کړي او ټولو ۵۰ ایالتونو ته یې د شپږ میلیون ډوز واکسین لېږدول ځنډولي دي.
د فبرورۍ د میاشتې له ۱۴مې څخه را وروسته د امریکا په ډېرو برخو کې هوا سړه شوې او سختې واوره او بارانونه شوي دي. سختو واورو او د ریکارډ په کچه سړې هوا د اوکلهما او ارکنساس ایالتونه ځپلي او په ټول ټکزاس ایالت کې یې د برېښنا جریان ګډوډ کړی دي.
دغو سختو واورو د جمهور رییس جو بایډن د حکومت هڅې چې د کروناویروس ضد واکسین د لېږدولو چارې ګړندۍ کړي، ځنډولې دي.
دغه راز د هوا حالاتو د میشیګن په ایالت کې د فایزر شرکت کارخونې ته چې د کروناویروس ضد واکسین تولیدوي، د جمهور رییس بایډن د سفر مخه نیولې ده.
دا په داسې حال کې ده چې کرونا ویروس لاهم په نړۍ کې په چټکۍ سره د ودې په حال کې دی. په ټوله نړۍ کې پر دغه ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۱۱ میلیونه او ۷۴۰ زره ۲۰۸ کسانو ته رسېدلی او دوه میلیونه او ۴۷۳ زره او ۸۷۹ نور کسان ترې مړه شوي او نږدې ۸۷ زره نور ترې ببرته رغېدلي دي.


### بلینکن: امریکا خواهان توافق سیاسی عادلانه و پایدار در افغانستان است



آنتونی بلینکن، وزیرخارجه امریکا می‌گوید این کشور خواهان توافق سیاسی عادلانه و پایدار در افغانستان است. پس از به میان آمدن حکومت جدید امریکا به رهبری جو بایدن، تماس‌های تلیفونی میان مقامات بلندپایه افغان و امریکا بیشتر شده است.
تمرکز این گفتگوهای تلیفونی بیشتر بر مسئله صلح بوده است. در ادامه این تماس‌ها آنتونی بلینکن، وزیرخارجه امریکا با عبدالله عبدالله رئیس شورای عالی مصالحه ملی گفتگو کرد.
پس از این گفتگوی تلیفونی وزیرخارجه امریکا در صفحه تویترش نوشت که با آقای عبدالله روی موضوعات صلح گفتگوهای خوبی داشته است. آقای بلینکن افزود: «ایالات متحده از توافق سیاسی عادلانه و پایدار و از هرنوع پیشرفت همه‌جانبه برای آتش‌بس حمایت می کند.»
شورای عالی مصالحه ملی هم می‌گوید آقای بلینکن در گفتگو با آقای عبدالله گفته در حالی که حکومت امریکا سرگرم ارزیابی وضعیت افغانستان است، امریکا همچنان خواهان تسریع روند صلح و رسیدن به توافقی برای صلح پایدار در این کشور است.
فریدون خوځون، سخنگوی این شورا در مورد گفت: «در صحبت تلیفونی رئیس شورای عالی مصالحه ملی و وزیرخارجه ایالات متحده امریکا تاکید بر این شد که خشونت‌ها در افغانستان یابد به پایان برسد و روند صلح سرعت پیدا کند. رئیس شورای عالی مصالحه ملی حمایت امریکا و جامعه جهانی از روند صلح را مهم خواند و هر دو طرف تاکید داشتند که جنگ درافغانستان خاتمه یابد.»

## ژوند

### د شیاومي مي ۱۱ الټرا حیرانوونکې ځانګړنې



د همدې میاشتې په پیل کې شیاومي کمپنۍ خپل مي۱۱ ځیرک موبایل معرفي کړ، خو اوس دغه کمپنۍ غواړي د دغه ځیرک موبایل تر دې هم پیاوړې بڼه چې مي۱۱ الټرا نومول شوې ده، خرڅلاو ته وړاندې کړي. دغه ځیرک موبایل به ٦,٨ انچه قات شوې اولېډ ډوله او کواډ اېچ ډي ریزلوشن لرونکې مخپاڼه ولري چې له ۱۲۰ هرتز ریفرېش رېټ څخه ملاتړ کوي. دغه ځیرک موبایل به د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن۸۸۸ ډوله پروسېسر سره خرڅلاو ته وړاندې شي. دغه ځیرک موبایل شاتنۍ برخه کې ډېر مختلف ډیزاین او کامرې لري. د معلوماتو پر بنسټ، دغه ځیرک موبایل به شاتنۍ برخه کې ۵۰ مېګاپکسله اصلي، ۴۸ مېګاپکسله وایډ اېنګل او ۴۸ مېګاپکسله پرېسکوپ ټېلېفوټو زوم کامرې ولري. دغه کامرې به تر ۱۲۰x پورې د زوم وړتیا هم ولري. شیاومي مي۱۱ الټرا شاتنۍ برخه کې یوه ډېره کوچنۍ اضافي مخپاڼه هم لري. د دغه ځیرک موبایل بیه او خرڅلاو ته د وړاندې کېدو نېټې په اړه څه نه دي ویل شوي.

### د رهبرۍ ۹۹ سلنه ماتې؛ د شخصي ناوړتیا له امله رامنځ ته کېږي



کېدای شي دا درته ډېره په زړه پورې نه وي، چې په رهبرانو کې تر ټولو ښه ځانګړنه رښتینولي ده. خلک د هغو رهبرانو پیروي کوي، چې ښه شخصیت ولري. هېڅوک نه غواړي چې له بې باوره کس سره اړیکه ولري؛ خو مخکې له دې چې د نورو له شخصیتي ځانګړنو سره سروکار ولرو، باید هره ورځ له ځان سره حساب وکړو. که ونه توانېدی چې پر ځان باور وکړې، موخو ته په رسېدو به هم بریالي نه شې. ښه شخصیت لرل او رښتیني اوسېدل په هر ځای کې د هر کار لپاره ضروري دي. که دا ځانګړنه ونه لرې، ژوند مو داسې مانا لري، لکه د خوړ تېرې چې صیقل کوی.
ډېری کسان پر خپلو وړتیاوو باور لري، خو شخصیت ته چنداني ارزښت نه ورکوي. دغه کمزوري د ظرفیت او وړتیا له امله نه ده، بلکې د شخصي نواقصو له امله رامنځ ته کېږي. هڅه وکړئ چې د وړتیاوو له پیاوړي کولو سره سره مو شخصیت هم جوړ کړئ.

STUDENT'S
ACCOUNT
د زده کونکو/زده کړیالانو جاري حساب
عزیزي بانک خوښ دی چې خپل ځانګړی محصول "د زده کونکو جاري حساب" په لاره اچولی چې د افغانستان د زده کونکو لپاره ځانګړې ډالۍ ګڼل کیږي. نوموړی حساب زده کونکو/زده کړیالانو ته د وړیا ای تي ام کارت او په کلنۍ فیس کې د ماستر ډبټ کارټ تخفیف سره چمتو شوی دی.
www.azizibank.af
1515
عزیزي بانک
Azizi Bank